


# ښاغلی عبدالهادي هادي د پښتوژبې او ادب تکړه، مخکښ اوخوږ ژبې شاعر

## مرکه وال : انجنیرعبدالقادرمسعود

دښاغلي عبدالهادي هادي ادبي او فرهنګي څېره او نوم او د ده غزلیزه شاعري زموږ د هیواد په معاصرو شاعرانو کې  د ادب او شاعرۍ مینه والو ته څرګنده او روښانه بیلګه ده.

ښاغلی عبدالهادي هادي د (محمد حیدر) زوی دی، پر (۱۹۷۲) زیږدیز کال د سمنګان ولایت د ایبکو په ښار کې په یوه درنه کورنۍ کې زیږیدلی دی.

ده خپلې زده کړې د ایبکو د ابتدایه مرکز نه پیل او د کابل د خوشال خان بابا او رحمان بابا لیسو او د کابل پوهنتون تر ادبیاتو پوهنځي پورې څغلولې دي.  لو مړنۍ دنده یې د افغانستان د لیکوالو اتحادیې نه پیل کړې او په افغانستان کې د رواني غمیزې له نوي پړاو سره سم د کابل د بیکوره شویو کډوالو له یوه لوی بهیر سره پر نوېم کال پېښور ته

لیږدیدلی دی، هلته یې دولس کاله د افغانستان لپاره د بي بي سي راديو په تعلیمي خپرونو کې د خبریال، لیکوال او پروډیوسر په توګه دنده په افغانستان او پاکستان کې کار کړې دی . د طالبانو تر نسکوریدو وروسته یې له بي بي سي سره د کار تر څنګ د آلمان د میدیوتیک موسسې په ملاتړ د (وریښم) په نوم پښتو ادبیاتو ته لومړنی ځانګړې مجلې مسول مدیریت په غاړه واخیست، او تر هغو یې مسول مدیر وو، چې څو د مادي ستونزو له امله د یادې مجلې چاپ ټکنی شو. تر دوه زره دریيم لمریز کال وروسته نوموړي د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت کې داسنادواو اړیکتیایي چارو د ریس او همدا راز د دفترد ریس او د وزارت د ویاند په توګه خپلې دندې تر سره کړې دي چې د دفتر د ریاست او د وزارت د ویندويي تر څنګ یې له ډیرو کلونو وروسته یو ځل بیا د مخابراتو د وزارت نشراتي برخه فعاله کړه او د دغه وزارت مجله(برید) یې چې نیژدې دیرش کاله نه وه خپره شوې د (اړیکه)په نوم بیا پیل کړه او پنځه کاله یې له نورو مسولیتونو سره سره د یادې مجلې د مسول مدیر په حیث هم کار وکړ. دی پر (۲۰۰۹) کال د آسترلیا هیواد ته ولیږدید او په (سیدني) ښار کې میشت شو.اوس مهال په سیدني کې د شمله په نوم د یوې راډيو مشر دی. د هادي صاحب څلور شعري مجموعې د ( ګل د شپې پر څنو، د اورونو پر تنابونو،مات غمي او ستا به باور نه راځي...) په نومونو چاپ شوې دي.همدا شان د لنډو کیسو دوه مجموعې او د نا چاپو شعرونو دوې مجموعې هم لري چې ډیر ژر به چاپ شي.،تر دې سربیره د ښاغلي هادي یو شمیر شعرونه چې د هیواد نوموتې دیکلوماتورې میرمن سهیلا حسرت وردک (نظیمي) دیکلمه کړیدي د غږیزې مجموعې په توګه سي ډي شوي چې د تکثیر چارې یې د بشپړیدو په حال کې دي.

د هادي صاحب د شاعري بیلابیل اړخونه او د زړه دمیني او احساس سوچه او سپیڅلې رنګ ځانګړې ځلا او ښکلا لري. د هغې په شاعري کې زموږ دهیواد د بیلابیلو موضوعګانو او د ټولنیزو پیښوعیني او ریښتیني اړخونه په ډیر ښکلي کلام او ظریفانه شکل په ډیر عالي عواطفو او احساساتو کښې انځور شوې دي.

ښاغلی صدیق کاوون توفاني چې زموږ د هیواد نومیالي، نوښتګر، مخکښ او با احساسه شاعراو لیکوال دی په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي هادي صاحب د شعر او شاعری په اړه داسې وایي:

(....زه ښاغلی عبدالهادي ، هادي له شپیتمو لمریزو کلونو راهیسې پیژنم او له شعر سره یې آشنا یم.

ځومره چې د هادي په شخصیت کې د صداقت ، ریښتینولی ،صمیمیت ، مینې او یورنګی جلوه په ځلېدو ده ، په همغه کچه یې په شعر کې هم دغه انساني بنسټیز اصول غبرګون لري.

وایي چې شعر ، د شاعر د شخصیت او اندېښنو هینداره ده. که چېرې وغواړو د یوه شاعر شخصیت وپېژنو او د هغه د کرکټر ځانګړني، ځان ته څرګندې کړو ، باید شعر یې ولولو او د شعر په هنداره کې یې ریښتیني څېره ووینو.

کله چې موږ د هادي د شعر ښکلي او رنګیني نړۍ ته ورننوزو ، هلته موږ یوازې ښکلا نه وینو ، یوازې رنګین مفاهیم نه وینو او یوازې د هنر به مهینو ګوتو د اصیلو مرغلرو پېیلي امیلونه نه وینو ، بلکې د هادي د شخصیت دننني نړۍ هم وینو ، د هادي دردونه او غمونه ، چې د هادي د هېواد او ولس دردونه او غمونه هم دي وینو ، د ولس په ژوندانه کې د ماتو او بریو، هیلو او ناهیلیو انعکاس هم وینو ځکه چې هادې د خپلې ټولنې غړی دی ، یو ساده غړی نه بلکې یو شاعر غړی او یو دردمند او با احساسه شاعر غړی. او د خپل وخت، خپلې ټولنې او خپل نسل د دردونو او کړاوونو شاعرغړی. هلته موږ د هادي زغم ، چې دده د سرګردانه او رنځېدلي نسل زغم هم دی، وینو او د هادي قد او قامت چې د ده د هوښیار، هوډمن او غښتلي نسل د هوډ او باور څرګندوی دی، وینو، چې د ستونزو د غرونو په وړاندې نه ټیټیږي او نه ناهیلی کیږي، د هیلو او امیدونو ډیوه په زړه کې بله ساتي او د شعر پانوس په لاس د تروږمیو جګړې ته ورځي.

زه دګران هادي د ژوندانه نړۍ روښانه، دهیلو آسمان یې په ځلانډو ستورو پټ او د شعر رنګین بڼ یې ټل سمسور او ښېرازه غواړم...)

- د کاوون صاحب د خبرو پر استناد د هادي صاحب په شعرونو کې د هیواد او اولس سره پاکه اوسپیڅلې مینه، جذبات او احساسات په ډیر ظریفانه انداز سره غورځنګونه وهي.ده دخپل اولس او ټولنې هیلو آرمانونو او دردونو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. دی دخپل زوریدلي اولس با احساسه شاعر او لیکوال دی. د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه لولو:

د ربې ورځې ماښام دی، ورته ګوره

یو غریب مین ناکام دی، ورته ګوره

هره ورځ مو ، یوه بله شپه پیلیږي

د افراط دغه انجام دی، ورته ګوره

په یوه سر یې دنیا پسې اخیستې

څه سرزوری زما قام دی، ورته ګوره

ستا هادي چې سر له کانو جنګولو

اوس مات شوی او آرام دی، ورته ګوره

****

اویا وایي :

خدای دې کور مه ورانوه!

کور دې آباد اوسیږه!

د چا د کور د ورانیدو،

خبر مې زړه ورانوي

د هر انسان د ماتیدو،

خبر مې زړه ورانوي.

د دوه زړګو د بیلیدو،

خبر مې زړه ورانوي.

ان د دښمن د ژړیدو،

خبر مې زړه ورانوي.

خدای دې کور مه ورانوه!

کور دې آباد اوسیږه

***

او یا وایي :

زړونه مو له زنګه خدایه وساتې

نور کلی له جنګه خدایه وساتې

ډیر ځلي لویدلي پاڅیدلي یو

بیا مو له ګړنګه خدایه وساتې

دا د اژدها پر ژامه پروت اولس

روغ د دیو له چنګه خدایه وساتې

ستا پر نامه سل ځلي شهید وطن

بیا د اور له څنګه خدایه وساتې

***

ـ ښاغلي ډاکتر صاحب ببرک ارغند چي زموږ دهیواد یو نومیالي ادبي او فرهنګي شخصیت، وتلي ژورنالیست، نوښتګر او نامتوداستان لیکونکي دی، په خپله یوه لیکنه کي د ښاغلي هادي صاحب د د شعر او شاعری په اړه داسي وایي:

(« عبدالهادی هادی، شاعر دلباخته است، دلباختهٔ انسان، دلباختهٔ وطن و دلباختهٔ ادبیات. شاعریست بهنام ، خوش مشرب و فرهیخته ، آنچه او میسراید ، نالهٔ بیوه زنان ، سوز و درد یتیمان و عشق وطن و مردمش است که در هیأت واژه های سرکش و بیقرار و ستیزه گر با وزن و قافیه می آمیزند و همچون خنجری در برابر دژ ظلم و نابرابری قد راست میکنند . او عاشق مردم و وطنش است . در پارچه یی میگوید:

لږ مي پرېږده چي په لیچو دي سر کیږدم

ژوند خو هسي هم د لمر پریوتو سات دی

هره شپه مي ګل وطن په خوب کي ګورم

ننګرهار دی، کندهار دی ، که هرات دی

خلک به وایي چي هادي په مزو سر دی!

دا وطن راته سور اور ، د خدای په ذات دی

***

عبدالهادی هادی را باید گرامی داشت همان گونه که اومردم و وطنش را گرامی میدارد.)

- هادي صاحب هغه خوږ ژبې او با احساسه شاعر دی، چې په خپلو شعرونو کې د مينې او محبت او د طبعيت د ښکلا خبرې کوي او دهيواد او هيوادوالو سره ژوره مينه، د پښتنولي او دپښتون اولس نيک خصايل، اخلاص او صداقت، ، وفاداري، ننګ، دغيرت او ميراني تراني په ډيرو ښکلو او ښايسته انځورونو کې په ډير ظريفانه انداز سره بيانوي. دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

نن مې کابل جانه انديښنه درته بيا ډيره ده

ناسته دي پر ګل وجود د کومې بلا ويره ده؟

بيا د کوم ابليس د قساوت په اور کې سوځې ته؟

ليکه د سرو وينو او لمبو درنه چاپيره ده

***

او يا وايي:

سيوری يم د چا د خوږ وجود پر چنار پروت يمه

واه څومره نيازبين يمه د زلفو پر تار پروت يمه

تاو رانه لاسونه لکه هار د ګلو پريږده ته

مه مې ښوروه چې ستړی ستړی کرار پروت يمه

***

او يا وايي:

پورې غر لاندې ډبرې

شاوخوا لوړې ژورې

د جومات پر شنو ګومبزو

ناستې څوسپينې کوترې

څو نغريو کې اور بل دی

ترينه تاوې څو تور سرې

په حجرو کې يې لا پاتې

ځو پګړی دي شمله وري

زیړ مخونه لویې ږیرې

او درنې درنې خبرې

***

او یا وایي :

له ورږمو نه مې پیدا کړې، له ځپو نه مې پیدا کړې

اخ، د ګل غوندې جانانه، له خوشبو نه مې پیدا کړې

دا ته ځنګه راته وایې، چې له کومه لوري راغلې؟

په خوبو کې راسره وې، ویښو شپو نه مې پیدا کړې

ته سرود دخدای د نظم، ترنم د طبیعت یې

د سیندونو له سروده، شنو اوبو نه مې پیدا کړې

***

او یا وایي :

پریږده دا دنیا د تنګ نظرو بیخي هیره کړه

راشه یوه خوله راکړه او لاس رانه چاپیره کړه

غوا ړم چې دمه شم او اوږده ستړیا مې وباسم

پریوځه نرمه لیچه د اورمیږ لاندې راتیره کړه

ځنګه به له شرمه د کلی په شانې سره شولې

ما دې چې په غیږ کې د دمې غوښتنه ډیره کړه

***

اویا وایي :

نور نه د چا روح یمه او نه خو د چا ساه یمه

تور په تومتونو ، رنګيدلی په ګناه يمه

ما مې له لمنې، اور اخيستی سوځيدلی يم

سم لکه پښتون وطن تباه، تباه، تباه يمه

ځکه راته تنګه شوه هوا کې سره تيت شومه

زه د کوم يتيم د خولګی کړيکه يمه، آه يمه؟

وخت وو چې د چا پر تور پيکې تومبلی ګل ومه

اوس لکه د لمر سترګه لويدلی يم پناه يمه

چا د شک پر غشو د هادي زړګی سوری کړلو

زه يې لا تر اوسه د شکې سترګو خيرخواه يمه

- د هادي صاحب د شعرونو نه څرګنديږي، چې دی په رښتيا سره زموږ د هيواد د پښتو ادب يو خوږ ژبی او با احساسه شاعر دی.

ښاغلي شهسوار سنګروال چې زموږ دهيواد يو تکړه شاعر، پياوړي مورخ او نامتو ځيرونکي دی د هادي صاحب د شعر اوشاعری او ادبي شخصيت په اړه په خپله يوه ليکنه کې داسې کښلي دي:

(لومړی له انجنير مسعود صاحب نه ډيره مننه چې ماته يې بلنه راکړه، چې د ښاغلي هادي صاحب د شعر او شاعری په اړه څو کرښې وکاږم:

۱- ما چې څومره د هادي صاحب شاعري لوستې ده، د ده دشعر ژبه خوږه او زړه راښکونکي ده او بايده ده چې همداسې وي. دا ځکه چې شعر يو ژبنی هنر دی او د کلماتو ښکلي انځور.

۲- د ښاغلي هادي شاعرانه تخيل ستايم دا ځکه چې د ده په شعر کې (نه يوازې قافيه وال شعر بلکې آزاد شعر هم يادوم.) د شاعرانه تخيل هستي او مستي د هنري ارزښتونو له مخې انځور شوې ده.

۳- د هادي صاحب په شعر کې سنتي ځانګړتياوې هم پالل شوې دي. د شعر بڼه او مينځپانګه يې هم رنګينه ده. انځور او اسطورې هم لري، تخيل او استعاره هم. د شعر لپاره په شعر کې انځور د يو شي دوهم نوم دی چې ذهن ته راځي او اسطوره بيا د تخيل

او انځور په بنسټ مینځ ته راځي. او د خواجه نصیر توسي په قول: د شعر اصلي موخه شاعرانه تخیل دی.

۴- ښاغلی هادي په شخصي ژوند کې یو مینه ناک انسان دی، خوږ دی او په چا تومت نه پورې کوي.)

(په شاعرانه مینه سنګروال (۲۰۱۲/۶/۳) لندن)

- په رښتیا سره چې دهادي صاحب په شعرونو کې ښایسته اوپه زړه پورې لوړ خیالونه او ژور اندونه په خورا ښکلي او ظریفانه انداز سره پېیل شوي دي. دبیلګې په توګه يې دا لاندې څو شعره سره په ګډه لولو:

اخ چې لندې فاصلې وای....

له ګلونو ښایسته يې، ګلابونو نه ښایسته يې

ته د خدای د لاس خلقت يې، بهارونو نه ښایسته يې

ستا د حسن غزل لیکم ، واړه توري شي کم رنګي

د دنیا د ټولو ژبو ، له حرفونو نه ښایسته يې

ستا ښایسته ترنم اورم ، ستا له خیال سره اوسیږم

څومره ښکلې میلودي يې، سرودونو نه ښایسته يې

ستا خندا د ګلو فصل ، پسرلي ورنه رنګ اخلي

***

او یا وایي :

وخت زما غلام دی زمانه راسره سمه ځي

خلکو راته ګورئ! میخانه راسره سمه ځي

جار دې تر قدم شم ، ستا قدم راپسې تللی دی

ستوري مې پېیلي دردانه راسره سمه ځي

***

او یا وایي :

شور نه مې لاس وانخيست، آشوب نه مې لاس وانخيست

زوړ شومه ملګرو ليونتوب نه مې لاس وانخيست

سل ځلې شيخانو د سندرو په تور ونيوم

غم به مې سندره کړ، پايکوب نه مې لاس وانخيست

څه ښه زمانه وه، درته ياد شي چې په ضد شومه؟

څو مې چې ښکل نه کړې ماشومتوب نه مې لاس وانخيست

خير که حسودان د زماني راته يو شوي دي

مړ يې کړم پر تا له مينتوب نه مې لاس وانخيست

***

او يا وايي :

اوس مو په لار کی قافلي لو ټوی

غله موږه ډاګه ورځي شپې لو ټوي

ستا له حکمت، ستا له عظمته لوګي

لا مو نغريو کی لمبي لو ټوي

***

ـ د هادي صاحب د شاعري يو کمال دا دی، چې د ده شاعري ډېره ساده، سليسه، روانه او په زړه پورې ده. د ادب او شعر مينه وال کولای شي د ده د شعرونو په لوستلو او اوريدلو خپله ادبي تنده ماته کړي. د ده نه ستړي کيدونکي هلې ځلې د پښتو ژبې د پراختيا او پرمختيا لپاره د ډيرې مننې او ستاينې وړ دي. د بيلګې په توګه دا بيتونه ګورو:

څوک چې درته ګرانه تر ايمانه وي دا څه مانا

ساه دې وي په تن کې دې روانه وي دا څه مانا

ټوله زندګي واخلي د شک په اور يې وسوځي

ای! که مسلمانه، بدګمانه وي دا څه مانا

خوب مې لید جانانه که تعبیر يې راته وکوې!

زه د چا غلام هغه سلطانه وي دا څه مانا

هيڅ د غنمرنګو د مزاج په ابهام پوه نه يم

ښه وکړي شيبه کې بيا پښيمانه وي دا څه مانا

ته د زړه هنداره ورکړې دا يې درته ماته کړي

ښکلي چې هر چيرته وي ناځوانه وي دا څه مانا

دا مې د ځوانۍ د ليونتوب د وخت عادت پاتې

ورانه وي يو څوک خو په ما ګرانه وي دا څه مانا

غواړمه هادي چې شرنګيدلی غزل وليکم

روح مې پکې ښکاري چې ستومانه وي دا څه مانا

***

او يا وايي :

خاوره د وجود مې واخلي بت مې کړي بګوان مې کړي

سل ځلې مې جوړ کړي په شيبه کې بيرته وران مې کړي

دپ د ګونګي غږ يمه له ځانه راوتی نه شم

تاو مې کړي په سرو شونډو او خپور لکه آذان مې کړي

زه د دې د حسن انعکاس شمه، غزل شمه

دا مې ترنم کړي او ناره د يه قربان مې کړي

چپ شم لکه کاڼی وايم هيڅ هنګامه نه کوم

شرکنده باران شي نکه شور مې کړي ګويان مې کړي

مړې سترګې راواړوي، راوخاندي، ژوندی مې کړي

خاورو نه مې پورته کړي او ستوری د آسمان مې کړي

زه د ژوندانه د فلسفې د ابهام اوج یمه

دا مې سره وسپیړي، تفسیر مې کړي آسان مې کړي

نور به ریاضت هادي د عشق په طریقې کوم

ګوره که دا پاتې عمر نفس د مسلمان مې کړي

***

ښاغلي افضل ټکور، چې زموږ د هیواد وتلې، نامتو، تکړه او مخکښ شاعر او لیکوال دی، په خپله یوه لیکنه کې د هادي صاحب د شعر او شاعرۍ په اړه داسي وايي:

سترې سترې راشمه او تاته پناه راوړمه

ستا پر سپین څنګل باندې له خوب نه مې لاس وانه خست

هادی

( ګران انجنر صاحب قادر مسعود ته یو وخت ما وویل : ددې له پاره چې دغه دلیکوالو او شاعرانو مرکې لا پسې ښکلې شي، نوکله چې دشاعرانو سره مرکې کوې، نودنورو لیکوالو او شاعرانو نظرونه هم رااخله،نو دا به ددغو مرکو ارزښت لا پسې زیات کړي،

اوس هغه دغه سلسله پیل کړې ده او زه یې ډیر په ځای او ګټور ګام بولم،دادی انجینر صاحب دا ځل زموږ دهیواد له نامتو شاعر او لیکوال ګران عبدالهادي هادي سره مرکه کړې ده، او له مانه یې هیله کړې ده چې دهادي په اړه څه ووایم،

عبدالهادي هادي زموږ دهیواد هغه نوښتګر او خوږ ژبې شاعر دی چې دهغه په اړه په داسي لنډ او تنګ وخت کې څه لیکل ګران دي،

دهادي دشاعرۍ او ژوند او شخصیت په اړه ډیرې خبرې کیدلی شي دهغه شعر او غزلیزه شاعري زما په اند اوس اوس ځانګړې ښکلا اوځانګړې ارزښت لري، زه او هادي یو ځای دکابل دښو او بدو پیښو شا هدان یو، ما او هغه یوځای په کابل کې شاعري پیل کړې بیا کله چې حالاتو پر موږ کابل سور تنور کړ او دوطن پریښودلو ته اړ شو، نودشعر ملکه هم په سرو سترګو له موږسره زموږ په زړونو کې ، وطن پریښود، له ماسره اوس په لندن او له هادي جان سره اوس په سیډني کې اوسیږي، له همدغې ملکې سره دواړه ژوند کوو، دواړه پرې خپل ناسور زخمونه ټکوروو او دواړه پرې خپل زړه کراروو، شعر اوس زما او دهادي روزګار دی، شعر اوس زموږ دواړو ژوند دی او بده به نه وي که ووایم چې شعر اوس زموږدزړونو غږونه دي، زه چې هر سهار دهادي

هادي نوی شعر په فيس بوک کې لولم نو ډېر څه په کې وګورم، وران او ويجاړ وطن، پرديتوب، مينه خلوص،او بل کوم څه چې زه يې دهادي هادي په شعر کې وينم هغه له وطن سره دهغه اورنی مينه ده، او دغې مينې دهغه شعر ته خوږلت ورکړې دی، هادي دخپلې شاعری له پيل نه ډېر ښه شعر ليکه، له ابتذال نه يې کرکه لرله او هميشه دابتکار پلوی وو، او نن سبا چې هغه کوم غزل ليکي نو بې له شکه ويلی شم، چې بې جوړی غزل ليکي ، زه هغه ته لا زيات برى غواړم، او که خدای کول بل وخت به د هغه دشاعری په اړه په تفصيل سره وغږيږم، اوس همدومره.

په مينه: ټکور)

ښاغلی هادي صاحب ډېر ساده مزاج لري، دی يو زړه سوانده، مهربان، مات مخی، بې کبره شخصيت دی.او د پاک زړه څښتن دی. دی د خپلو يارانواو دوستانوسره د يومينه ناک انسان په توګه په ډېره پسته او آرامه ژبه غږيږي او د خپلو ملګرو په منځ کې خپل ځای اومقام لري.

د هادي صاحب د پوره پيژندګلوي لپاره ما د ده سره يو ادبي مرکه نيولې ده ، هيله من يم چې پر لوستلو يې ستاسوادبي تنده ماته شي.

هادي صاحب زما سلامونه او نيکې هيلې ومنې. اجازه راکړی، چې خپلې پوښتنې پيل کړم.

مسعود صاحب ستاسو نه ډېره مننه. زه ستاسو په خدمت کې يم.

پوښتنه : تاسو چې په شعر ويلو پيل وکړ، کوم احساس، شوق او مينې دې ته وهڅولې، چې د خپلې ټولنې ليکوال او شاعر شوې؟

ځواب : يوې ناڅرګندې مينې چې اوس يې له ويلو عاجز يم.

پوښتنه : ځينې ليکوال او شاعران وايي، چې شعر څلور توکه (فکر، احساس، تخيل او آهنګ) رانغاړي، خو پوهاند مجاور احمدزيار د يوه ژبپوهاند او ورسره ورسره د ادبپوهاند په توګه په خپل اثر ((پښتو بدلمبچ- پښتو شعر څنګه جوړيږي؟)) کې دغه شمېره پينځه ښوولې،(( ژبه- آهنګ- احساس- انديښه- خيال)). تاسې په دې اړه څه ليد لرئ؟

ځواب : د استاد زيار خبره به خپل وزن لري خو په شعر کې زما په خيال ژبه هغسې نه کارول کيږي چې د يوه ژبپوه په ګړونج دې برابره او د ژبپوهنې ټولو اصولو ته دې پکې

پام وشي، د شعر ژبه ډېر ځله هغه قواعد ماتوي کوم چې موږ په نثر کې ورته پابند یو او کوم چې په ورځني ژوند کې ورته خیال کوو، د دا وړ ژبې یا په شعر کې د ژبنیزو بدعتونو مثالونه له کلاسیک شعر نه راواخله تر معاصر ډېر لیدلای شو.

پوښتنه : رحمان بابا وایي :

خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې

نه پوهیږم چې رحمان یم که جانان

ما وی زړه د مومن عرش دی خبر نه وم

چې به عشق زما دا عرش کاندي ویران

عاشقۍ یې تر هغه حده بیهوش کړم

چې نه هوش لرم نه سر او نه سامان

یا وایي:

ننګ او نام که ستا په مینه له ما درومي

زار شه ستا تر مینې ننګ او نام زما

او همداسې استاد ګل پاچا الفت وایي:

په هر ځای کې په هر چا کې چې ښکلا وي

دیورپ، د افریقې که د اسیا وي

د نظر خاوند په مینه ورته ګوري

مسلمان وي او که ګبر که ترسا وي

تاسې مینه، عشق او ښکلا په شعر کې څنګه ارزوئ؟

ځواب : په شعر کې رومانیت یو لوی بحث دی، خو په لنډو که ستاسو مقصد دا وي چې ګویا شعرکې مینه څومره رول لري نو زه فکر کوم چې شعر پرته له مینې ممکن نه دی، شعر د مینې ترویجونکی دی او شاعر د مینې د سرودونو غږوونکی.

پوښتنه : د دغو یادو خبرو پر بنسټ، ستاسو په آند شعر ته کوم تعریف ټاکلې شو؟ او په شعر کې کوم بنسټیز لاملونه یا فاکتورونه ډېرنقش لوبوي، چې بایدیوانسان د شعر او شاعرۍ لاره وټاکي؟

ځواب: انجير صيب د شعر له پاره تعريفونه ډير شوي دي او هغه فکتورونه او لاملونه هم په واورو وارو را سپړل شوي دي چي د شعر له پاره مهم دي، زه خپله دا ګنم چي شعر د شاعر د خپلو دردونو او تجربو راسپړل او له ټولني سره شريکول دي او که د شاعر درد او د ټولني درد يو او تجربي سره ورته وي نو د ټولني د وګړو زړونو ته لاره کوي او د ټولنيز درد د انعکاس بنه خپلوي او تلپاتي کيږي.يا په بله مانا شعر د شاعر او د هماغه چاپيريال او نسل د مشترکو دردونو او خوښيو انعکاس دی. خو له لويه سره زه دا نه منم چي څوک دې شعر تعريف کړي،شعر په تعريفونو کې نه ځاييږي.

پوښتنه : یو شمیر لیکوال په دې عقیده دي، چې شعر الهام دی خو یو شمیر نور وايي، چې شعر لیکل، رياضت او انساني تجربه ده. تاسې پکې څه وویاست، مهرباني وکړۍ په دې اړه خپل نظر راسره شریک کړئ؟

ځواب : الهام يوه شاعرانه شيبه ده چي زه ورنه انکار نه کوم خو د تومني تر بريده چي رياضت دا تومنه پخوي ياني پرته له رياضته او پرته له خوارۍ مطالعي، ليکلو او لوستلو شاعري نا ممکنه ده، که وي هم مقطعي به وي.

پوښتنه : هر شاعر اولیکوال دخپلولیکنواوشعرونولپاره ځانګړی سبک لري تاسي په شعر او شاعرۍ کې ځانته خپل سبک لرئ او که د کوم بل سبک پیروي کوئ؟

ځواب : دا ځواب به لوستونکو ته پريږدو خو زما د خپل يوه غزل دوه بيته درته ليکم چې دا زما هميشنی دعا هم ده:

زړونه مو له زنګه خدايه وساته

نور کلی له جنګه خدايه وساته

ټول عمر به شعر ته رياضت کوم

ما د بل له رنګه خدايه وساته

پوښتنه : نوی، آزاد شعراوسپین شعرله کلاسیک شعرسره څه توپیر لري؟ یو شمیر شاعران په دې عقیده دي، چې سپین یا آزاد شعر په پښتو ادب کې له ډیر پخوا څخه موجود وه. تاسو په دې اړه څه نظر لرئ، او دا راته وویاست ، چې دآزادیا سپین شعرمفکوره دچا له خوا چیرته او څرنګه را پیدا شوه؟

ځواب : دا سوال به لږ اوږد ځواب وغواړي خو که په لنډو ووايو نو د کلاسيک او نوي شعر تر منځ لوی توپير خو هماغه د جولې دی چې په لومړي کې قافيه، رديف او وزن د شعر لازمي اجزاوې دي خو په آزاد شعر کې بيا د قافيي قيود نه شته او د شعر اډانه پر وزن، آهنګ او نويوالي (تصاويرو،ايماژونو يا ذهني انځورونو،ترکيبونو او خيال)ولاړه ده.ما له شته تعريفونو سره برابر سپين شعر د پښتو ادبياتو په ورشو کې تر نونسمې پيړۍ دمخه نه دی ليدلی،خو د نونسمي پيړۍ په لومړيو لسيزو کې دغه شعري ډول له لويديځو ادبياتو نه پښتو ته لاره وکړه او لومړنۍ نمونې يې هم د اروابناد راحت زاخيلي او همدا شان د استاد پژواک په کليمه داره روپۍ کې کتلای شو، همدا شان لوی استاد حبيبي د لومړنيو آزادو شعرونو له ليکونکو ګڼل کيږي.

پوښتنه : زموږ په پښتو ادب کې حماسه داستاني بڼه لري، تاسو د دغو داستاني حماسو اغيز پر پښتو شعر او د پښتو ادب د پراختيا او پرمختيا لپاره څه ډول ارزوئ؟

ځواب : موږ له تعريفونو سره سمې حماسي لږې او وياړنې ډيرې لرواوله آره د پښتو شعر اډانه پر همدې وياړنو جوړه ده ، تاسو که د امير کروړ له مشهورې وياړنې تر لوی خوشاله وګورۍ نو زموږ د شعر ټوله منځپانګه له همدا ډول وياړنو جوړه ده، او د همدې وياړنو اثر دی چې زموږ ملت کې يې پر ځان او خپلو تيرو د وياړيدو روحيه راپيدا کړېده، دي کار په دنيا کې موږ ته يو شناخت راکړی دی خو ورسره يې تر نورو متمايز کړي هم يو،همدغو وياړنو او حماسو زموږ ادبياتو ته يو ځانګړی جلال ورکړی دی.

پوښتنه : : د کومو پخوانيواو معاصرو شاعرانو په شعرونو کې مستي، ياغيتوب، غرور او سرکښي زيات ليدل کيږي. تاسې په شعر کې دا فکتورونه څه ډول څيرئ؟

ځواب : لوی خوشال بابا زموږ په ادبياتو کې تر ټولو سرکش،مست ، ياغي او وياړلی شاعر دی،هغه مستي، هغه جلال، د زماني د اولالامرانوپه وړاندې مقدس بغاوت چې د خوشال بابا په شعرونو کې کې دی د دنيا د کمو لويو شاعرانو په شعرونو کې يې کتلای شو، په وروستيو او اوسنيو کې د غني خان، سليمان لايق، جهاني او اجمل ختک شاعري همدا خصوصيت لري،چې دا هره ځانګړنه د دغو سترو شاعرانو د شعرونو په تلپاتي کيدو کې لوی لاس لري، زما خپله خوشال بابا د هغه د بيساري مستي، سنت شکنيو غرور او سرکشی له پاره خوښ دی.

پوښتنه : فلسفه، تصوف اوعرفان په شاعرۍ کې څرنګه څيرئ؟ ستاسې په نظرپه دغو درې برخو کې کومو شاعرانوخپل ذوق زيات آزمويلی دی او پاملرنه يې ورته کړی ده؟

ځواب : عرفان ، تصوف او فلسفه د شعر په منځپانګې پورې اړه لري، د پښتو په کلاسیکو کې رحمن بابا د تصوف لوی استازی دی، فلسفي مفاهیم حداقل ما د لومړي ځل له پاره د غني خان او اشرف مفتون په شعرونو کې لیدلي دي چې وروسته تر سالک او سعوده ځینو نورو هم فلسفي مفاهیم په خپلو آثارو کې رانغاړلي او وړاندې کړي دي.د غني ګډې وډې د فلسفي شاعرۍ بارزې او په زړه پورې نمونې دي.همدا شان په ځوان شعر کې د سعود په دري ګونیزو دایرو کې دا څرک ښه لګیږي.

پوښتنه : تاسې په شعرکې سېمبولونه څه ډول څېړئ، او دا راته وویاست، سیمبولونه په شعر کې د یو شاعر د ذهني او رواني حالاتو تمثیل دی او که له یوې ټولنې د شرایطو او حالاتو څخه په طبیعي شکل جوړیږي؟

ځواب : زما په نظر سمبولونه د شعر لازمي جز دی خو که ابهام رامنځته نه کړي او آشنا وي ، شعر ته سمبولونه ښکلا وربښي خو د فلسفي او اروا‌پوهنیزو سمبولونو کارول ظاهرا شعر د افهام خواته بیايي ، د شعر زیاتره لوستونکي عام وګړي دي چې له فلسفي او اروا‌پوهنیزو مسایلو او مفاهیمو سره آشنایي نه لري او چې داسې وي نو بیا دا ډول سمبولونه نا آشنا ورته ښکاري او په نتیجه کې شعر د پیریانو په ژبه بدلیږي،سمبولونه که د شاعر د ذهني او رواني حالاتو زیږنده هم وي ، وي دې خو داسې نه چې له طبیعت سره نا آشنا او پردي وي، هر سمبول باید یو مفهوم را تداعي کړي پرته له هغه د ښکلا پر ځای بدرنګي زیږوي.

پوښتنه : که چیرې د خوشحال خان ختک او رحمان بابا شعرونه ته ځانګړې پاملرنه وکړو، ښايي د شعرونو ډیرې بیلګې او خواوې یې د بڼې او محتوا له مخې توپیر، ونه لري خو څه داسې خواوې او ځیزونه هم شته، چې د دوی شعرونه سره بیلوي.تاسو په دې اړه څه لید لرئ؟

ځواب: په خوشال او رحمن بابا کې د ځمکې او آسمان هومره تفاوت دی، خوشال بابا د لایتناهیتوب استازی دی، او رحمن بابا تر خپل ښکلي دیوان پورې محدود دی،د خوشال په شعر کې د ژوند هره برخه له میني رانیولې تر رزم او ان ټولنیزو اړیکو پورې رانغښتل شوي دي او د رحمن بابا شاعري پستي دنیا ته شا کول او آخرت ته د توښې برابرولو په لور یو ښایسته دعوت دی، زه فکر کوم چې رحمن بابا د انسانیت شاعر دی، د ښکلا شاعر دی خو خوشال بابا د ژوند په اندازه پراخ دی.

پوښتنه : زموږ یو شمیر لیکوال په دې ګروهه دي، چې دشعر په پرتله باید نثر ته زیاته پاملرنه وشي.تاسې په دې اړه څه لید لرئ ؟

ځواب : په وروستیو کلونو کې زه هم په یو شمیر محافلو کې دا ور یوه تمایل ته متوجه شوی یم، ان کله کله دا رجحان د ادبي کړیو تر منځ د بحث وړ موضوع باندې بدل شوی دی،زموږ یو شمیر مشران لیکوال او استادان په دې اند دي چې موږ د پښتو ادبیاتو پر ورشو شعر ډیر لرو خو نثر مو هغومره نه دی، نو ځکه اوس د دې وخت رارسیدلی دی چې د نثر لیکلو ته ډیره پاملرنه وشي او شعر دې هغه کسان وپالي چې په رښتیا یې د پاللو وس لري، د دوی خبره خپل منطق لري چې زه ورسره کار نه لرم خو زه خپله وایم چې موږ هماغومره چې نثر ته اړتیا لرو هماغومره شعر ته هم اړ یو، اصلن تر اوسه موږ د کلیمې په ریښتیني مانا شعر کم لرو، داسې شعر چې له نړیوال شعر سره دې سیالي وکړای شي، خو دا په دې مانا هم نه ده چې موږ باید نثر ته شا کړوو ښه خبره دا ده چې موږ د نثر په برخه کې د حرفوي لیکوالو یو نسل راوروزو او همدا شان شعر هم په ټول قوت وپالو.

پوښتنه : مهرباني وکړې د لنډیو په اړه خپل معلومات راسره شریک کړی. په ځینو آسیایي هیوادونو کې فلکلوریک اشعار لکه هایکواو داسې نور ویل کیږي. تاسودپښتو ادب دلنډیو په پرتله دغه ډول اشعار څه ډول څیړئ؟

ځواب : لندۍ د پښتو فوکلوریک شعر یو ښکلی او د دنیا په کچه بیجوړې صنف دی چې د پیړیو په پوړیو کې له یوې سیني بلې ته ورلیږدیدلي او تر موږه رارسیدلي دي، د لنډیو د احتوا ساحه لکه ژوند دومره پراخه ده، له ښکلا رانیولې تر رزم، بزم، نهیلی، امید،هڅې، کامیابیو او ناکامیو پورې او همدا شان د پښتنې معاشرې هره برخه چې تاسو فکر کوی هغه په لنډیو کې رانغاړل شویده ، چې که یې مثالونه راوړو شاید خبره ډیره اوږده شي، زه ګمان کوم چې د پښتو لنډیو ښکلا د دنیا په کچه بیسارې ده خو له بده مرغه تر اوسه لا زموږ دغه مرغلرې دنیا والو ته هغسې چې ښایي نه دي معرفي شوی، حتی خپله موږ په دې باب داسې څیړنه نه ده کړې چې د هغو له مخې موږ د لنډیو ښکلا په ښه ډول سره راوسپړو، البته په متفرق ډول ځیني کارونه شویدي چې شاید مهم هغه یې د لوی شاعر اکادیمیسن سلیمان لایق څیړنه وي. او پاتې شوه د هایکو خبره نو تاسو ته عرض وکړم چې دا سمه ده چې هایکو له ښکلایز پلوه له لنډیو سره مشابهت لري خو هایکو بیا فولکلور نه ده بلکه د جاپاني شعر یو صنف دی چې شاعران یې مالوم دي همدا شان له لنډیو سره یې بل ښکاره توپیر دا دی چې د هایکو د احتوا ساحه یوازې طبیعت دی، مانا دا چې په هایکو کې له آره نور مسایل او د ژوند نورې برخې نه رانغاړل کیږي خو لنډۍ د ژوند ټوله فضا احتوا کوي.

پوښتنه : په هیواد کې دننه اوبهرپه یو شمیر راډیویي او تلویزوني خپرونو کې ادبي اوفرهنګي پروګرامونه اوبرنامې خپریږي، د دغو خپرونوپه اړه ستاسې لید څه دی؟

ځواب : ربښتيا هم نن سبا په هيواد کې دننه ډير او بهر يو نيم ځای يو شمير راډيويي او تلويزيوني ادبي خپروني جوړيږي او خپريږي چې که له ځينو ملاحظاتو تير شو نو هره يوه يې خپل ارزښت لري، هغه څه چې يو شمير  دا خپروني يې پيکه کړيدي دا دي چې لا هم په دغو خپرونو کې  د ته ماته لا لا وايه زه به تا ته ماما وايم روحيه حاکمه ده چې متاسفانه د دې نقيصې يو مخ له منځه وړل ګران دي، خو له دې هر څه سره سره دغه خپروني په هيڅ ډول بې ارزښته نه دي بلکه هره يوه يې د نويو او ځوانو شاعرانو او د ادب د مينه والو په روزلو او همدا شان د شعر او ادب د مينه والو د ذوقونو په خړوبولو کې  د پام وړ ونډه لري.

پوښتنه : په يوه ټولنه کې چې د عقايدو او فرهنګ سانسور واکمن وي ، ستاسې په اند په يو شاعر او ليکوال  باندې څه اغېز لري ؟ شاعر او ليکوال څنګه کولای شي له دې ډول ناخوالو سره مبارزه وکړي ؟

ځواب : زه فکر کوم د دنيا تر ټولو لوی هنري شهکارونه د تړليو او مقيدو ټولنو او ناخوالو په شرايطو کې خلق شويدي ، نو په دې اساس دا نظر قوت پيدا کوي چې که شاعر او هنرمند هنر او شعر ته متعهد وي او رياضت ورته وکړي نو په دا ډول حالاتو کې لا ښه شاعري او لا ښه تخليق کولای شي، سيمبولونه، اسطورې، استعارې او نور هغه افزار دي چې هنرمندان او شاعران په داسې حالاتو کې ښه استفاده ورنه کولای شي.

پوښتنه : تاسې د ادبي نقد او کره کتنې او د ادبي او فرهنګي مرکزونود جوړولوپه اړه په هېواد کې د ننه او بهر، چې د نورو ادبي ځانګوالو تر څنګ واکيالي (باصلاحيته) ځانګيوه کره کتونکي غړيتوب و لري، څه ليد لرئ؟

ځواب :زه فکر کوم چې ادب او هنري تخليق له کره کتنې پرته وده نه شي کولای ، څو چې کره کتنه دود او عامه نه شي البته واقعي کره کتنه نو د کره او نا کره آثارو بيلول او پيژندل به ګران شي، له آره کره کتنه د ادبي سبکونو د څيړنې ، مطالعې او راسپړنې فن ته وايي ، خو په پښتو کې له بده مرغه فقط يو څو تنه حرفوی کره کتونکي لرو چې په هغو کې هم ځينې په خپله برخه کې کار کوي او ځيني نور پر تخليقي کارونو بوخت دي، همدا کار د دې سبب شوی چې له بده مرغه په ځوان پښت کې نه موږ ښه کره کتونکی لرو او نه هم بې پرې کره کتونکی ، زه خپله له کره کتنې سره مخالف هم نه يم بلکه خوښيږي مې هم خو نه داسې کره کتنې چې ځينې وخت يې موږ ګورو او لولو.ډيره به ښه وي چې موږ د کره کتنې په برخه کې هم يو انسجام رامنځته کړای شو. همدا اوس

چې تاسو د پښتو شعر د بیسارۍ ودې او هره ورځ د ډیرو ښو استعدادونو د غوړیدو شاهدان یاستی دا ټول همدغه د کره کتنیزو غونډو او ناستو برکت دی چې په شپیتمو کلونو کې له کابله پیل شوی او بیا د افغان بهیر او رشاد کره کتنې او اوس لسګونو نورو داسې محافلو پورې راغزیدلی دی.

پوښتنه : یو شمیر شاعرانو او لیکوالو د خپلو څیړنیزو اونوښتګرو کارونو او فعالیتونو لپاره د بهرنیو لیکوالوآثاراوشعرونه ژباړلي دي. ستاسې پر اند د بهرنیو آثارو ژباړه او یا زموږ د آثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب و فرهنګ د ودې او پرمختګ لپاره څه اغیزښندلای شي؟ او دا راته وویاست چې تاسې پکې ونډه اخېستې ده او که نه؟

ځواب : زما په اند موږ تر هرڅه زیات ژباړو ته ضرورت لرو ، همدا ژباړه ده چې موږ له نړیوال ادبي بهیر سره همګامه کوي موږ په نړۍ کې له نویو ادبي خوځښتونو او بهیرونو خبروي او باالعکس دنیاوال زموږ له ادبي بهیرونو نه خبروي. له بده مرغه زیاتره افغانان د دنیا پر نورو ژبو له لیکل شویو آثارو نه ګټه نه شي اخیستلای نو که موږ تازه او کره ژباړې ولرو زموږ دغه تشه به مو په شعوري ډول ډکه کړې وي.بې له ژباړې( هم له نورو زموږ ژبې ته او هم نورو ژبو ته زموږ د آثارو) موږ په هیڅ ډول له نړیوال ادبي بهیر سره نه شو همګامه کیدلای. ما خپله په دې برخه کې د بوختیاوو له کبله برخه نه ده اخیستې خو که وخت ولرم نو دې کار ته به کار ووایم.

پوښتنه : زما پر آند دهرهنر، هنرمند د یوې ټولنې د خلکو په راویښولواو دملي احساساتو په راپارولو کې ډیر عالي رول لري اوباید دخپل هنر په وسیله دخپلې ټولنې اوخلکوپه خدمت کې وي، خوزموږ په لره او بره پښتونخوا کې یوشمیرشاعران، لیکوال، هنرمندان، سندرغاړي او داسې نوربرخلاف دخپلو اصلي دندو عمل کړئ دی اوکوي یې، دبیلګې په توګه یوشمیر شاعران اوهنرمندان (مدح سرایي) کوي، شعر او هنر یې په شعارونو تبدیل شوی دی او دخپل حریف پرضدیې حساسیت ښوودلی دی او یا یې ښیي.مهرباني وکړی په دې اړه خپل لید راته بیان کړئ؟

ځواب : انجنیر صیب دا ننۍ خبره نه ده ، بلکه په هروخت او هره زمانه کې دا خبره وه ، خو د وخت په تیریدو هغو چې له هنر سره یې تعهد درلوده او شعر یې د شعار او مدحو تر بریده نه دی راټیټ کړی پاتې شوي او نور د زمان له حافظې وتلي او هیر شوی دي ، په اوسني وخت کې به هم همداسې کیږي هغه هنري آثار چې هنریت او جوهر ولري پاتې کیږي او هغه چې موسمی وي د زمان له حافظې به ووځي.

پوښتنه : تاسي په اوسنيو سياسي، تاريخي او کړکيچنوحالاتو کې په وطن کې د ننه او له وطن څخه بهرد شعراو ليکوالی وضيعت څرنګه څيرئ، شاعرانو او ليکوالوته په دې اړه څه وړانديزونه لرئ؟

ځواب : زه چې په هيواد کې دننه او بهر ګورم نو له نيکه مرغه اوس تر بل هر وخته د پښتو ادبياتو او په تيره د تخليق په برخه کې يو طلايي دوره رادبره شويده، اوس موږ تقريبن د افغانستان په ټولو ولايتونو کې ادبي ناستې او ټولنې لرو، چې هره دغه ټولنه يو شمير مثمره فعاليتونه او کارونه لري چې ډير ګټور او د پام وړ دي. په همدې اورنيو او مايوسونکو ناماالومو حالاتو کې زموږ پښتو شعر تر بل هر وخته زياته وده کړيده، چې دا ډول هڅې اميدوارونکې او اميد بښونکي دی.زما وړانديز دا دی چې دغه تيت او پرک هڅې يو څه نورې سره منسجمې ، همغږې او منظمې شي.

پوښتنه : ستاسو پيغام ديوشاعر او ليکوال په توګه هغه ځوانانو ته، چې په هيواد کې دننه او بهر د ادبي اوفرهنګي فعاليتونو سره بوخت دي څه دی؟

ځواب : زما پيغام خپلو ځوانو ، بلکه تر ما ځوانو فرهنګي ملګرو ته دا ده چې تر زياتو ليکلو زياتو لوستلو ته پاملرنه وکړي او هيڅوخت دې د خپلو آثارو د خپرولو په کار کې تادي نه کوي.

په ډير درنښت او ادبي مينه : انجنيرعبدالقادرمسعود